د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت
جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی
Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Communication and IT
دمقام د دفتر رياست
د ویاند دفتر |دفترسخنگوی Office of the Spokesman|

# مطبوعاتي خبرپاڼه

نېټه: د ۱۳۹۷ د لړم ۲مه

موضوع: د ګرځنده (مبایل) ټیلفونونو او وسایلو د ثبت سیستم د رامنځته کولو په موخه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د طرحې منظوري

سه شنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۲مه : د مالیې وزارت د سرپرست او د زیربناو په چارو کې د جمهوري ریاست ارشد سلاکار ښاغلي محمد همایون قیومي په مشرۍ د اقتصادي عالي شورا ناسته وشوه. په داسې حال کې چې اقتصادي عالي شورا غړي په ځانګړې توګه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد آریوبي حضور درلود، د ګرځنده (مبایل) ټلیفونونو او وسایلو د ثبت سیستم د رامنځته کولو طرحه د غونډې ګډونوالو ته وړاندې شوه او له بحث وروسته پرېکړه وشوه چې:

دفزیکي خوندیتوب، د مبایل کاروونکو د شخصي حریم د ساتنې، د جرمونو د مخنیوي او مالیاتو څخه د فرار د مخنیوي په موخه د اهمیت په موخه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت له خوا د ګرځنده مبایلونو او وسایلو د ثبت سیستم د رامنځته کولو طرحه تائید ده.

د ویلو ده چې مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د ګرځنده ټلیفونونو د غلاو او پټولو ستونزه چې په ځینو حالاتو کې د هېوادوالو د مرګ ژوبلې سبب ګرځي، د خپلو کارونو په لومړیتوب کې نیولې او یوه طرحه یې جوړه کړې چې په عملي کېدو سره به یې د ګرځنده ټلیفونونو د غلاو مخنیوی وشي، د خلکو د شخصي معلوماتو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې مخه به ونیول شي، بازار ته به غېر قانوني وسایل نه واردېږي او تر څنګ به یې د مالیاتو د فرار مخه ونیول شي.

ددغه طرحې پر بنسټ یو داسې سیستم جوړېږي چې په هېواد کې دننه او آن د سیمې په هېوادونو کې به غلا شوي الکټرونیکي وسایل د استفادې وړ نه وي او مجرمینو ته به یې غلا هېڅ کومه ګټه ونه لري.

پر دې سربېره، ددغه سیستم په رامنځته کولو سره مجرمین په ډېر کم وخت کې په نښه کېږي او د قانون منګولو ته سپارل کېږي. دا سیستم په داسې ډول جوړېږي چې نه یوازې د ټلیفونونو د غلاو د جرم مخنیوی کوي، بلکې نورې ناوړه او غېر قانوني کړنو لکه د غېر قانوني سیم باکسونو د کارونې او همدا شان د بې کفیته وسایلو ده وارداتو مخه نیسي.

له دې کبله د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې ددغه سیستم د جوړولو او د مخابراتي خدماتو د مشترکینو د ځان او مال د خوندیتوب په موخه له ټولو امکاناتو کار اخلي او هېوادوالو ته به دغه اسانتیاوې رامنځته کړي.

د زیاتو معلوماتو لپاره زموږ وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.mcit.gov.af

دفتر سخنگوی، ریاست دفتر ، وزارت مخابرا ت و تکنالوژی معلوماتی، شماره تماس : 0202107091
ویب سایت: www.mcit.gov.af